مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۲/۰۲

# څنګه او د چا سره سوله؟

څلوېښت کلنه جګړه چې دوه مکمل نسلونه یې د خپل اور په لمبو کې را لوی کړل، د ټول هیواد بنه یې داسی بدله کړه چې نه یواځې د بشری کړو وړو اثار یې په بشپړه توګه له منځه یوړل، بلکې زمونږ د ښکلی هیواد هغه طبیعی ښکلایی چې لوی الله (ج) ورته پیرزو کړی وه، د هغه د تاریخی عظمت سره چې هرکال به ورته د ډیرو کمو خدماتو سره سره بیا هم په سلګونوزره سیلانیان د نوری دنیا څخه دلیدلو ته راتلل، داسی تباه او برباد کړل چې بیا رغونه به یې یا امکان و نه لری او یا به هم ډیری اوږدی زمانی ته اړتیا ولری. دا تباه کونکې جګړه د وطن د دوه قومونو، دوه سیاسی یا مذهبی ډلو، د دوه ژبو د ویونکو، د دوه سیمو د اوسیدوکو او یا یواځې د هیواد په دننه کی د میشته خلکو ترمنځ جګړه نه ده، بلکې که د لړی مبالغې په قبلولو سره ورته و ګورو نو دا داسی یوه مغلقه او بی مثاله جګړه ده چې تقریباً ټوله دنیا، د ټولی دنیا سیاسی او مذهبی جوړښتونه او سیستمونه پکې په یوه بڼه نه یوی بڼی سره را ګډ شوی او برخه یې پکې لرلی ده. که د دی جګړی اوږوالی، انسانی او مالی زیانونو او ټولو ابعادو ته په ژوره توګه و کتل شی نو په پوره ډاډ سره داسی ادعا کیدلی شی چې، د نړۍ د عمومی جنګونو نه وروسته، د تیرو دری څلورو پیړیو په زمانه کی تر ټولو نورو جنګونو نه، ناوړه او تخریبی جګړه ده.
خیرا! که هرڅومره د دی بی ډوله جګړی او د هغی د بدو محصلو په هکله خبری وکړو نو کتابونه به ډک شی او کیسی به یې پای ته و نه رسیږی.خو اوسنی حالات داسی دی چې د تیری اوه لس کلنی جګړی د ختمیدو د پاره د دی دوری د جګړی اصلی پیلونکی هیواد یعنی د امریکا د متحده ایالاتو دولت په ظاهره کی افغانانو او نړیوالو ته یو شین څراغ ور ښولی او پتیلیی ده چې دا جګړه پای ته ورسوی. افغانان چې لوی او واړه یې ټول یواځې د دی وحشیانه جنګ د ختمیدو هیله من دی په پوره علاقه مندۍ سره زیار کاږی چې د جنګ د ختمیدو او د دوی جګړه زپلی هیواد ته د سولی د راتلو د پاره د دی پروسی سره هر ډول مرسته وکړی، خو ستونزه داده چې د امریکا دولت، افغان دولت ته د سولی په روانو خبرو کی په ډیره کمه سترګه ګوری او تر اوسه لا دا خبرو نه ده څرګنده چې طالبان به د هغو قوتونو له خوا چې د دوی ترشا ولاړدی، دی ته وهڅول شی چې د افغان دولت سره مخامخ خبری و کاندی او کنه؟
د سولی د خبرو د پاره د امریکا د دولت د هیئت مشر ډاکټر زلمی خلیلزاد همدا یوه خبره د رسنیو سره شریکوی چې د سولی خبری تر اوسه پوری په بری سره پر مخ روانی دی. دلته د مونږ افغانانو سره یو څو پوښتنی د اندیښنی په توګه را پیداکیږی او هغه داچې:
ـ ایا دسولی دا روانه پروسه د افغان دولت او د دی دولت د وسله والو مخالفوطالبانو د پخلاینی د پاره، په لاره اچول شویده او که یواځې د امریکا او طالبانو د پخلا کیدو د پاره؟ که سوله د افغانستان او افغانانو د پاره وی نو بیا ولی تراوسه چې د ګاونډیو په شمول د دی جنګ نه متاثری ټولی خواوی پکی را شریکی شویدی خو افغان دولت اویا که بهتره و ویل شی افغان ولس ته پکی د ګډون حق نه دی ورکړ شوی؟
ـ افغان ولس مشر محمد اشرف غنی په کابل د ټول افغانستان نه د راټولو شوو ځوانانو په غونډه کی په څرګنده توګه و ویل چې « د جنګ کیلی به په راولپنډی او اسلا آباد کی وی خو د سولی کیلی په کابل کی ده» ددی خبری مفهوم دا رسوی چې د افغان دولت سره له خبرو پرته دی وطن ته نه سوله راتللی شی او نه بل څوک د احق او صلاحیت لری چې د افغان دولت له قناعت پرته د سولی خبری بریالی و بولی. ایا د امریکا دولت د افغان ولسمشر دی خبری ته چې دټول ملت خبره ده اهمیت ورکوی کنه؟
ـ یوه ډیره عجیبه خبره داده چې ډاکتر خلیلزاد وایی چې امریکا د افغانستان نه په عاجله توګه د خپلو عسکرو غوښتونکی دی نو افغان دولت هم باید په دی برخه کی د عجلی نه کار واخلی. پوښتنه داده چې ایا ښاغلی خلیلزاد یا د امریکا دولت په دی نه پوهیری چې که د سولی د راتلو د پاره ټول لوی او واړه خنډونه له منځه لاړ نشی، دا ډول سوله به د څومره وخت د پاره دوام وکړی؟ ایا دا ډول سوله به د افغان ولس او حتی نړیوالو د پاره یوه نوی فاجعه تر شاه و نه لری؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ که امریکا داسی سوله غواړی چی خپلی غوښتنی په طالبانو ومنی او د طالبانو غوښتنی چی عمده غوښتنه یی د افغانستان نه د دوی د پوځونو وتل دی، دوی ومنی، نو په دی صورت کی څه کوی؟ ایا طالبان بیرته قدرت ته رسوی؟ ایا د موجوده دولت نه چی د همدوی محصول دی د حمایی لاس اخلی او په میدان کی یی خوشی کوی؟ ایا د دوی په ادعا دغه د اوه لسو کلونو لاسته راوړنی، لکه مدنی حقوق، د ښځو حقوق، اساسی قانون، پارلمان او نور او نور باید د کوم سرنوشت سره مخامخ شی؟
ـ که داسی قبوله شی چی د افغان دولت سره له مشوری پرته د سولی پروسه پر مخ و لاړه شی او د یوی شیبی د پاره دا هم قبوله کړو چی طالبان بیرته د امریکا له خوا قدرت ته و رسول شی، آیا په دیصورت کی به د جګړی یو کاملاً نوی باب را منځ ته نشی او د اولسو کالو په اوږدو کی به د سلګونو زره د افغان ځوانانو د وطن د ساتنی په نوم دشهیدانوپه وینو یوه ډیره ناوړی معامله نه وی شوی؟؟
ـ ایا امریکا او د هغوی سره په خبرو اخته طالبان په دی نه پوهیږی چی د افغان دولت او په مجموع کی د افغان ولس سره د خبرو او مفاهمی پرته به د سولی خبری بی نتیجی وی؟ او ایا له سولی پرته طالبان کولی شی چی د توپک په زور لکه د پخوا په څیربیا دولتی قدرت ته ورسیږی؟
ـ یوه ډیره مهمه پوښتنه داده چی، موجود افغان دولت خو په حقیقت کی د امریکا او د هغه دنورو انډیوالانو په مرسته خپله ورځ چلوی، ایا د طالبانو سره د روغی جوړی نه وروسته به هم دافغانستان سره مرستی ادامه ولری او که ختمی به شی؟ که دا مرستی ختمی شی ایا دا دولتی موجود تاسیسات به بیا د داخلی داړه مارانو او بدنیتو همسایه ګانو له لوری تالا ترغی نشی؟ د سولی د خبرو په اجندا کی به دی مطلب ته ځای ورکړ شوی وی کنه؟
ـ دا او داسی نوری ډیری پوښتنی شتون لری چی ښاغلی ډاکټر زلمی خلیلزاد یی دیوه افغان امریکائی په حیث، چی د امریکا د مداخلی د لومړۍ ورځی نه تر ننه پوری په فعاله توګه د افغان په دی روانه ستره غمیزه کی ورګډ دی، په پام کی ونیسی او دا په اثبات ورسوی چی د سولی روانه پروسه یوه پراخه، هر اړخیزه او د جګړی د ریښتینی پای ته رسیدو د پاره را منځ ته شویده، نه د یوی بلی تراژیدی د پیل د پاره. د دی خبری د ثبوتولو په منظور ښاغلی خلیلزاد باید دی پروژی ته د یوه داسی ماموریت په سترګه و نه ګوری چی یوائنی هدف یی د یوه معیین وخت د پاره د حق الزحمی تر لاسه کول وی، بلکی داسی یو عمل باید تر سره کړی چی د بری په صورت کی افغان ولس دی ښاغلی ته د « نوبل » د سولی د جایزی د ورکړی د پاره وړاندیز و کاندی. دا کار هغه وخت امکان لری چی نور د جنګ په نوم په افغانستان کی د چا ژوند وا نه خستل شی او دا هیواد د نړی د نورو هیوادونو سره د سالمو انسانی اړیکو په لرلو، خپل سوله ایز ژوند ته ادامه ورکاندی. په همدی هیله.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ